**بسم الله الرحمن الرحیم**

**په سوریه کې د ویجاړو شوو جوماتونو په بیا جوړولو کې د قادیروف مرستې**

**(ژباړه)**



**خبر**

د ۲۰۱۷م د دسمبر پر لومړۍ د اینترفاکس خبري اژانس داسې خبر خپور کړ: « په روسیه کې د سوریې د سفیر ریاض حداد د جمعې ورځې وینا ته په کتو سره، د احمد قادیروف د خیریه صندوق په مرستو به ډېر ژر د سوریې د حلب او حمص په ولسوالیو کې وېجاړ شوي جوماتونه جوړ او پرانیستل شي.»

**تبصره:**

له لومړۍ ورځې چې روسیې په بې رحمانه ډول د سوریې پر شریفو خلکو، سپین ږیرو، ښځو او ماشومانو د زرگونو بمونو د غورځولو اقدام وکړ، د چچن ولسمشر رمضان قادیروف له دغه وحشت څخه ملاتړ کاوه او نن په سوریه کې د خپل پلار له خیریه صندق څخه د تاریخي ویجاړو شوو جوماتونو د رغولو لپاره مرسته کوي. لکه څرنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی:

**«إِنْ لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ.»**

(رواه ابن ماجه)

**ژباړه:** *که شرم نه کوې، نو څه چې غواړې ویې وکړه.*

اسلامي امت داسې مرستندویانو ته اړتیا نه لري، څکه دوی داسې کسان دي، چې هڅه کوي اسلامي خاورې همداسې د کفارو تر ښکېلاک لاندې پاتې شي؛ بلکې اسلامي امت د تېر په څېر هغو مخلصو نرانو ته اړتیا لري، چې د ظالمو حکامو پر وړاندې د حق کلمې د ویلو توان ولري. هغه نران چې د نبوت پر منهج د خلافت د تاسیس لپاره له امت سره مرسته کوي. له هغې وروسته، چې د الله سبحانه وتعالی نصرت د مسلمانانو په برخه شي، اسلامي دولت به د مسلمانانو له پت ساتنه او د مقدساتو به یې احترام کوي او له دوی څخه به ملاتړ وکړي او د مسلمانانو جوماتونه او ویجاړ شوي ځایونه به په لنډ وخت کې بیا جوړ شي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيبًا﴾

***ژباړه:*** *وایي چې د الله سبحانه وتعالی د نصرت ژمنه څه وخت را رسېږي، ور ته ووایه: وخت یې نږدې دی.*

**لیکوال: سلیمان ابراهیموف**

**۱۴۳۹هـ.ق کال، د ربیع الاول ۱۹مه**

**۲۰۱۷م کال، د دسمبر ۷مه**

**ژباړن: بشارت**